السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# بېشکه چې عملونه د نیتونو له مخې (اعتبار) لري

له امیر المؤمنین؛ عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې ما له رسول الله صل الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویل یې: «بېشکه چې عملونه د نیتونو له مخې (اعتبار) لري، او هر چا ته به هماغه (اجر یا بدله) وي چې نیت یې کړی وي، نو چا چې هجرت د الله او د هغه د رسول لپاره کړی وي، نو د هغه هجرت به (واقعاً) د الله او د رسول لپاره وي؛ او چا چې هجرت د دنیا د (ګټې) لپاره کړی وي چې تر لاسه یې کړي، یا د کومې ښځې لپاره چې نکاح ورسره وکړي، نو د هغه هجرت به (هماغه وي) یعنې د هغه شي لپاره چې هجرت یې ورته کړی دی».

صحیح دی] [د محدثینو دواړو امامانو ابو عبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة بن بردزبه البخاري او ابو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري النیسابوري په خپلو صحیحینو کې روایت کړی دی، چې تر ټولو کره تصنیف شوي کتابونه دي]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیانوي چې هر عمل ته اعتبار په نیت سره ورکول کیږي، او دا حکم په ټولو عملونو کې عام دی، خواه که عبادات وي او یا معاملات، نو چا چې په خپل عمل سره د کومې ګټې اراده وکړه، نو له هغې ګټې پرته ورته بل څه نشته او ثواب یې هم نه کیږي، او چا چې په خپل عمل سره الله تعالی ته د نږدې والي اراده وکړه نو په عمل به یې اجر او ثواب تر لاسه کړي که څه هم هغه یو عادي عمل وي، لکه خوراک او څښاک. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په عملونو کې د نیت اغېزه داسې بیان کړه چې سره لدې چې په ښکاره به عملونه سره یو شی وي، خو چا چې په هجرت او وطن پرېښودلو سره د الله د رضا اراده وکړه، نو هجرت یې شرعي او د الله تعالی په نېز قبول شوی هجرت دی او د نیت د اخلاص له امله ورته ثواب ورکول کیږي، او چا چې په هجرت سره د دنیوي ګټې اراده وکړه، نو له هجرت څخه یې له همغې ګټې پرته چې نیت یې کړی وي بل څه په لاس نه راوړي او هېڅ اجر او ثواب ورته نشته.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66511

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee